د اومر خیریه مؤسسه

امن

خپرونه

دویم خپرونیز پړاو - اوومه-اتمه ګڼه ربیع الثاني - جمادي الاولی ۱٤۱۹ هجري سپوږمیز ، اسد-سنبله ۱۳۷۷ هجري لمریز

د ماینونو او ناچاوده مهماتو
دبیلابیلو خطرونو د مینځه تللو سره د رښتینی
خپلواکي او امن یادکارونه بیا ودانیدای شي.

با از بین رفتن خطرات گوناگون ماینها
و مهمات منفجرناشده یادگارهاي واقعي
آزادي و امن بازسازي شده مي تواند.

Real independance and security monument could be reconstructed by removing mines and UXO threat.

بسم الله الرحمن الرحيم

الهي فرمان

والذين جاءوا من بعدهم يقولون ربنا اغفرلنا ولإخواننا
الذين سبقونا بالإيمان ولا تجعل في قلوبنا غلاً للذين آمنوا ربنا
انک رؤف رحيم. (سورة حشر: ١٠)

ژباړنه: «او هغه څوك چې وروسته له مهاجرو او انصارواغلل هغوي د خدای په دربار کی دعا کوي چی ای پروردگاره مونږ او زمونږديني وروڼه چی له مونږ نه یی مخکی ایمان راوړی دئ وبخښه. زمونږ زړونه د مؤمنانو په هکله له کینې او رخی نه پاك کړه. ای خدایه! بی له شکه ته په خپلو بندگانو ډير مهربان او رؤف يی.».

ارشاد نبوي

لاتباغضوا، ولاتحاسدوا، ولاتدابروا، و كونوا عبادالله إخواناً و لايحل
لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاثة أيام.

باهمديگر كينه توزي مكنيد و به يكديگر حسد نورزيدو روي خويش را ازهمديگر مه گردانيد. واى بندگان خدا! باهم برادر باشيد، و براى مسلمان روانيست كه بيش از سه روز با برادرش ترك مراوده كند.

The front cover shows independance monument of
(Taq-e- Zaffar) in Paghman District, Kabul Province.

دپوس لومړی مخ پاندی د کابل د پغمان ولسوالی کی دخپلواکي
یادگار (د ظفر تاق) لیدل کیږي.

امن

خپرونه

دویم پړاو اومه-اتمه ګڼه
ربیع الثاني-جمادي الأول ۱٤۱۹ هجري سپوږمیز
اسد- سنبله ۱۳۷۷ هجري لمریزکال

د امتیاز خاوند:
د افغانستان د ماین پاکولو او
بیا ودانولو موسسه (اومر)

مؤسس: الحاج ف . ك. «فضل» عبدالرحیمزی

کتوونکي ډله:
انجینر غلام دستګیر
سیدروح الله باچا
پوهنمل شیرخان «رشتین»

مسؤل مدیر:
پوهنمل شیرخان «رشتین»

تدوین او اهتمام:
انجینر محمدعطاءالله «جواد»

عکاسي: محمدحنیف «علیم»

پته:
کورنمبر ۱۵، تاتارا پارك ته مخامخ ،
لومړی فیز، حیات آباد، پېښور
پاکستان.
تیلفون: ۸۱۲۰۸٤ فاکس: ۸۱۲۰۸۵
پوست بکس: ۱٤۳۳ یونیورسټی ټاون-پېښور

د افغانستان د ماین پاکولو او
بیاودانولو مؤسسه (اومر)

په دې ګڼه کې

مضمون **مخ**

رښتیانی امن ١
ماین مانع زندګي پر امن.......................... ١
دحضرت محمد(ص) پیدایښت اودبعثت رڼا.. ٢ - ٣
د اومرخیریه مؤسسی دماین پوهنی او....... ٤ - ٥
راپورفعالیتهای شش ماهه موسسه خیریه.... ٦-٧
دامن ادبي او ژبنی څیړنه.......... .... ٨- ٩
قصه مردبی احتیاط ١٠
د ادب وږمی ١١-١٢
اخبار.. ١٣
دماین پوهنی او ژغورنی پیغامونه......... ١٤

انګلیسي برخه

سریزه 1
دماین پوهنی او ژغورنی شپږمیاشتنی راپور.. 4 - 3
دماینونو د پاکولو شپږمیاشتنی راپور........ 7-5
دماین پوهنی او ژغورنی پیغامونه......... 8

رښتیانی امن



د مسؤل مدير يادښت

افغانستان دآسيا په زړه کی يو لرغونی او اسلامي هيواد دئ د اسلام سپيڅلی دين چی د انسانيت او بشريت د سولې او سلم آئين دئ ددې خاورې زړه ورو او هيواد پالو خلکو ته يې د سولې او امن په فضا کی د ژوند کولو درسونه ورکړي دي. د اسلام سپيڅلی دين ددې خاورې مظلومو او کړېدلو خلکو لپاره د رښتياني امن او سولی پيل او زيری دئ.

دکايناتو خالق حضرت باري تعالی د سولې او سلم خوښونکی دئ. الله تعالی فرمايي :
ژباړه «سوله خير دئ»

د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دبشريت اوانسانيت ستر علمبردار او لارښود ؤ. دغه شان په دي لاره کي ډيرو زياتو پاکو انسانانو هلې ځلې کړي دي څو په ټوله نړۍ کي سوله او امن قايم او دايم وي.

د اسلام سپيڅلي دين لارښوونې د لوي خدای په اسماني کتاب (قرانکريم) کی د بشريت او انسانيت د نيك مرغۍ او امن لپاره بيانې شوي دي.

الله تعالی په څمکه کی انسان ته د اشرف المخلوقات درجه ورکړې او هغه يې خپل خليفه گڼلی دئ دا ډير لوی اعزاز او اکرام دئ چی الله تعالی انسان ته ورکړی دئ دا د انسانيت او بشريت سره د کريم او محسن رب العزت لوي بخشش او احسان دئ.

البته دا په انسانانو پوری اړه لري چی د لوی رب العزت ددغه بخشش او احسان څومره شکريه اداکوي او د سعادت، نيکمرغۍ او امن په دي لاره کی څومره ځان وقف کوي اوڅومره خدمت سرته رسوي؟

زمونږ لرغوني او تاريخي هيواد گران افغانستان د وروستيو دوو لسيزو په موده کی د جنگونو او جگړو له امله د ډيرو زياتو ستونزو سره مخامخ شوي، په دي لرغوني

باقی(١٠)مخ

ماينها نوزندگي پرامن

گذارش توسط
تيم اگاهي ،شناسائی، و مصؤنيت
ازخطرات ماينها مربوط موسسه خيريه اومر
سوپروايزر: انجينر عبدالعظيم
اعضای تيم: امين الله، گل احمد سلطانی،
محمد شفيع نعيمي.

ولسوالي پغمان يکي از زيباترين ولسوالي هاي کابل است که به طرف غرب شهر کابل قرار دارد، شمال آن ولسوالي شکردره، شرق آن شهر کابل، جنوب آن ميدان شهر و غرب آن سنگلاخ واقع است.

دارای يکصدهزار نفرجمعيت ميباشد ، شغل اکثريت مردم کسبه کاري بوده متباقي به زراعت و مالداري مشغول هستند. آب و هوای گوارا و نسيم خوشگوار دارد تابستان آن معتدل و زمستان آن بسيار سرد ميباشد، تپه هاي آن سرسبز و قسمت هاي مرتفع کوه هاي آن در فصل تابستان پر برف ميباشد. اين ولسوالي در جريان جنگها خسارات و تلفات جبران ناپذير را متحمل شده است که خانه ها، مکاتب، باغها، شفاخانه ها و آثار تاريخي آن به خرابه مبدل گرديده است، دروازه دولتي (تاق ظفر) که ممثل مبارزه افغانها و پيروزی آنها در کسب استقلال کشور عليه استعمار بزرگ يعنی بريتانياکبيربوده قسماً در اثر حوادث اخيرتخريب شده است. ودرين مدت در حدود (٩٦٧٤) نفر درين ولسوالي در طول جهاد و حوادث اخير شهيد شده است. دراطراف و اکناف اين ولسوالي سه ليسه و شانزده مکتب ابتدائيه و متوسطه فعال مي باشد.

مرکز ولسوالي در بازار چندل بايي قرار دارد. دراين ولسوالي يك کلينيك دوکتوران بی سرحد، ويك شفاخانه دولتي فعال است که همه روزه در خدمت مريضان ميباشد، ولسوالي دارای ١٧ مسجد جامع ، و يکصد مسجد متوسط مي باشد.محصولات زراعتي آن از قبيل گندم، جواري، لوبيا، باقولي و کچالو بوده و ميوه جات آن از قبيل چارمغز، توت شصتي، آلوبالو، سيب و گيلاس ميباشد.

لبنيات ان چون شير، پنير و ماست ازشهرت خاص برخوردار مي باشد.

صنعت قالين باقي در اين اواخر در ولسوالي پغمان رايج گرديده که در حدود (١٥) دستگاه قالين بافي دراين ولسوالي وجود دارد. صنعت بافنده گي دستکش، جراب و کلاه نيز از مدت ها مروج بوده و اين محصولات حتی به کشورهاي خارج هم صادر ميشود.

دريای کابل (چمچه مست) از کوتل اونی سرچشمه مي گيرد کوه چمتله که به طرف شمال غرب ولسوالي واقع است قله هاي بلند آن پراز برف مي باشدکوه هاي پغمان دارای سنگ های قيمتي ميباشدکه رنگ آن سياه بوده ودرحکاکي ازآن استفاده ميشود. تپه هاي آن بنام قلعه بلند (تپه پغمان)، تپه پشته بادام، تپه دلسوز ياد مي شود.

ولسوالي پغمان به نسبت نزديك بودن آن به شهر کابل همواره محل وقوع جنگ وجدل هاقرارگرفته است.

درجريان دودهه، اخير همواره ماين هاي مختلف در آن جابجاگرديده و مهمات منفجرناشده نيز در اطراف و اکناف آن به وفرت ديده مي شود که همه و همه آهنگ زندگی در ولسوالي زيبای پغمان را کند نموده است البته کارپاکسازي ماينها درين ولسوالي توسط تيم هاي مختلف ادارات ماين پاکي جريان داشته باوصف آن بازهم تعداد زياد از ماينها ومهمات منفجرناشده در نواحي مختلف باقي مانده است که روزانه يك تعداد از هموطنان ما صيد اين دشمنان کور مي گردند.

موجوديت تعداد زياد ماينها ومهمات منفجرناشده دراين ولسوالي به مشکلات اهالي افزوده است و تمام شئون زنده گی مردم را متأثر نموده که به اثر بی توجهی وغفلت بعضي اهالي و جمع آوری فلزات، چره ها و مهمات منفجرناشده از سال ١٩٩٢ تا ربع اول سال ١٩٩٨ در حدود پنجصدنفر از بين رفته است حادثه اخيرکه بتاريخ ٢٣ می١٩٩٨ دردره پشه يي به وقوع پيوست در اثر آن سه تن اهالي منطقه متذکره که مي خواستند يك بمب بيلري را پارچه نمايند جانهاي شانرا از دست دادند.

مؤسسه خيريه اومر که از چندين سال به اين طرف در مناطق مختلف، پروگرام خبرداري از خطرات ماينها را به پيش مي برد تيم هاي اگاهي، شناسائی و مصؤنيت از خطرات

باقی(٩)مخ

دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم پیدایښت، اودبعثت رڼا

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دوشنبې په ورځ د ربیع الآول په دولسمه د عام الفیل په دویم کال د بني هاشم په قبیله کی دنیا ته راغی دغه وخت چی د نوشیروان د پادشاهي څلویښت کاله تیرشوي وو او دعیسوی ۵۷۱ کال د اپریل دمیاشتې د دوه ویشتم سره سمون خوري. په روایاتو کی راځي چی کله حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیدا کیدلو نو عجیبې پیښې مینځ ته راغلی، د ایوان کسری ۱٤ ستنې ړنګې شوې او د آزر اورغالی (آتشکده) چی اورپالو (آتش پرستانو) یې عبادت کاوه مړه او خاموشه شوه.

کله چی دوي مبارك نړۍ ته راغلل مورېې بي بي بي یوتن دده نیکه عبدالمطلب ته واستاوه څو هغه ته دلمسي زیری ورکړي. عبدالمطلب ډیر خوښ شو او هغه یې واخیست او دکعبې شریفی مینځ ته یې یوړ او پر هغه یې محمد نوم کیښود.

لومړۍ ښځه چی رسول صلی الله علیه وسلم ته یې دخپلې والدې څخه وروسته شیدې ورکړې ثوبیه ده چی له دې څخه یې مخکی حضرت حمزه رضی الله عنه ته هم شیدې ورکړې دي.

عربو دا رسم و چی د اولاد د ښه صحت مند کیدلو لپاره یې خپل ماشومان شیدې ورکوونکو رضاعي میندو ته سپارل، نو عبدالمطلب هم ددی سنت مطابق حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حلیمه بنت ابوذؤیب، د بني سعد بن بکر دقبیلې چی خاوند یې حارث بن عبدالعزی ابوکبشه نومیده دشیدو ورکولو لپاره ورکړ.

د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم رضاعي وروڼه اوخویندې عبارت دي له عبدالله بن حارث، انیسه بنت حارث او حذافه بنت حارث.

بی بي حلیمې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له برکته عجیب کارونه ولیدل چی د ابن اسحاق په وینا په خپله یې داسی بیان کړي دي:

هغه له خپل خاوند او وړوکي ماشوم چی هغه ته یې شیدې ورکولې د بني سعد دقبیلې له څینوشیدو ورکوونکو ښځوسره د رضاعي ماشومانو په لټولو پسی ووتل. حلیمه بي بي وایي دا کار په هغه کال ترسره شو، په کوم کال کی چی وچ کالي او کاختۍ مونږ ته څه نه و پری ایښې. زه په خپله په یوه سورلۍ چی ډیره ضعیفه وه او له ټولو څخه به وروسته پاتی وه سوره شوم او یوه اوښه مو چی له لوږی یې شیدی وچی وې هغه مو هم له ځانه سره واخیسته او ټوله شپه مو د ماشوم د ژړلو په وجه چی زما شیدی نه وی رڼه تیره کړه تردی چی مکی ته ورسیدلو او د رضاعي ماشومانو په پلټنه مو پیل وکړه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به چی کومو ښځو ته د رضاع لپاره وړاندی کیدلو نو هغوی به په دی وجه چی دی یتیم دی انکار کولو. له ماسره راغلو ټولو ښځو ماشومان دځانونو سره یوړل ، ماخپل خاوند ته وویل په داسی حال کی چی ماشوم مو نه دئ اخیستی ښه نه گڼم چی په تش لاس واپس ولاړه شم ، په خدای قسم چی د هغه یتیم ماشوم خوا ته به ځم او هغه به له ځانه سره اخلم. خاوند مې وویل: ځما له خوا په تااعتراض نشته چی دا کار وکړې، سائې الله پاك د هغه په برکت پر مونږ رحم وکړي.

بي بي حلیمه زیاتوي: کله چی مې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په غیږ کی واخیست، نو سینه می له شیدو ډکه شوه، په داسی شان چی ده وڅښلی او پری موړ شو نو رضاعي ورور یې هم پری موړ شو او دواړه ویده شول ، حال دا چی مخکی مې د ماشوم دلوری اوژړلو له لاسه خوب نشو کولای، خاوند مې ولاړ او اوښه یې ولوشله په هغې کی داسی شیدې پیدا شوې وې چی موږ یې سیرابه کړو.

شپه مو په دغه ځای کی په ډیره ښه توگه تیره شوه کله چی سهار شو نو په خپله سورلۍ سپره شوم او ماشوم مې هم راسره واخیست په خدای قسم داسی مزل یې کاوه چی نور لار وي ټول پاتی راغلل او نورو دوستانو مې راته وویل چی ای د أبوذوئب لورې! پر موږ رحم وکړه، آیا دا هماغه سورلۍ ده په کومی چی راغلی یې؟ نو ماوویل: هوا! پس له هغی کور کلي یعنی بني سعد ته راغلو، درارسیدو سره د کاختې هغه اثرات هم ورك شول، گډې مو مړی او له شیدو ډکی شوی په داسې حال کی چی د نورو خلکو گډو کی شیدی نه لیدل کیدی.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د رضاعیت مودی نه وروسته تر پنځه کلنی پوری د بنی سعد په قبیله کی پاتی شو ترڅو چی جبرئیل علیه السلام یې سینه خلاصه او ووینځله.بي بي حلیمه ددی واقعی څخه وروسته ویریدله نو پاك حضرت یې بي بي آمنی ته ورو سپاره.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شپږو کالو ؤ چی مور بي بي بي وفاته شوه له دې څخه وروسته عبدالمطلب ددوي نیکه د محمد صلی الله علیه وسلم روزنه په غاړه واخیسته . محمد صلی الله علیه وسلم د اتو کالو او دوه میاشتو ؤ چی نیکه یې عبدالمطلب وفات شو، پس له هغه سرپرستی یې د محمد صلی الله علیه وسلم دتره د أبوطالب په غاړه شوه. أبوطالب په ډیر ښه سلوك او رویې سره دخپل وراره تربیه کوله او تر څلویښتو کلونو یې دهغه تقویت وکړ او د هغه په سریې له خلکو سره دوستي او دښمنی وگاللی.

محمد صلی الله علیه وسلم د ۱۲ کالو او دوه میاشتو ؤ چی تره یې أبوطالب له ځانه سره په تجارتي کاروان کی شام ته روان کړ، دوي بصری ته چی د شام له مربوطاتو څخه ؤ ورسیدل. په دې ښار کی یو راهب ؤچی نوم یې بحیرا «جرجیس» ؤ، کله چی دا کاروان تم شو نو راهب یې استقبال ته ووتلو او ډیر استقبال یې وکړلو پداسې حال کی چی له دې مخکی کله هم د چا استقبال ته نه ؤ وتلی. هغه رسول صلی الله علیه وسلم په اوصافو چی په ده کسی ؤ وپیژاند او په داسې حال کی چی د رسول صلی الله علیه وسلم لاس یې نیولی ؤ ابوطالب ته یې وویل: « دا ماشوم د دواړو جهانونوسرور دی او الله جل جلاله دا ماشوم د دواړوجهانونو درحمت په توگه غوره کړی دی».

أبوطالب ورته وویل: ته په دی موضوع څنگه پوه شوي؟ هغه وویل: « چی زمونږ په کتابونو کی دهغه ټول اوصاف او خصوصیتونه په شمول د مهر نبوت ذکر شوی دي، نو څکه ما وپیژاند.بیایې أبوطالب څخه

وغوښتل څو محمد صلی الله علیه وسلم بیرته مکی ته ولیږي. هماغه و چی ابوطالب حضرت محمدصلی الله علیه وسلم له خپلو ځینی خادمانو سره مکی ته واپس واستولو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د پنځلس کالو ؤ چی د قریش او وقیس غیلان قبیلو تر منځ دحرب الفجار په نامه جګړه پیل شوه، رسول الله (ص) په خپله په کی برخه اخیستی وه اوخپلو ترونوته به یي غشي جوړول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنی سعد په قبیله کی دشپونکی دندی سرته رسولی دي او تر۲۵ کلنی پوری په خلکو کی دنیکو اخلاقو د لرونکي او امین په توګه مشهور شوی ؤ له دی امله بي بي خدیجه چی په هغه وخت کی یوشتمنه بي بي وه اود سوداګرۍ (تجارت) کار یی کاوه له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه څو دهغی دسوداګرۍ (تجارت) سرپرستی وکړی هماغه ؤ چی د هغی لپاره یي د سوداګری په کار پیل وکړ او شام ته په سفر ولاړ. کله چی رسول صلی الله علیه وسلم له شام څخه راستون شو نو بي بي خدیجي ته د رسول صلی الله علیه وسلم صداقت اوامانتداري معلومه شوه نو خپله ملګری نفیسه یي محمد صلی الله علیه وسلم ته ولیږله او ورڅخه یي غوښتنه وکړه چی له دی سره واده وکړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدی راضی شو او دخپلو ترونو سره ئي پدي هکله مشوره وکړه هغوی د خدیجي رضی الله عنها تره ته په جرګه ولاړل او پدی توګه ئي واده وشو دبي بي خدیجي عمر پدي وخت کی (٤٠) کلونو ته رسیدلی ؤ، مګر د نسب، ثروت، او عقل له پلوه ئي په عربو کی لوړی مقام درلود، دا لوړی ښځه ده چی محمد صلی الله علیه وسلم په نکاح کړه او تر څوهغه بي بي ژوندی وه بل واده ئی ونکړ. د ابراهیم څخه پرته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ټول اولادونه د همدی بي بي څخه ؤ. البته په اولاده کی یي یوازی بي بي فاطمه الزهرا ژوندی پاتی شوی وه.

کله چی نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمر ٤٠ کلنی ته نژدی شو دخپل قوم څخه ئی ګوښه والی غوره کړ، او پدي کار کسي هم دالله حکمت ؤ ترڅو دی د نبوت عظیم منصب ته عیار کړي، او د نبوت دلوی امانت ورسپارلو لپاره یی تیار او چمتو کړي.

هماغه ؤ کله چی د مبارك دعمر ٤٠ کاله پوره شول جبرئیل علیه السلام ورته وحي راوړه، دغه ورځ د رمضان دمیاشتی ۲۱ یوویشتمه نیټه وه چی د ٦١٠ عیسوي کال د اګست دمیاشتی له لسمي نیټي سره یی سمون درلود. او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم عمر ٤٠ کاله ٦ میاشتی او ۱۲ ورځی ؤ.

دنبوت د عظیم منصب دسنبالولو سره سم نبي کریم صلي الله علیه وسلم په دعوت شروع وکړه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم ددعوت مراحل په لاندي دوه مهمو دورو باندی ویشل شوي دي:

١- مکي دور چی (١٣) دیارلس کاله ؤ.

٢- مدني دور چی(١٠) کاله ؤ.

د مکي دور ددعوت مرحله دری پړاوونوباندی ویشل کیږي:

١- د سری «پټ» دعوت مرحله - چی دری کاله وخت ئی ونیو.

٢- د علني دعوت مرحله چی د بعثت د څلورم کال څخه شروع شوه یواځی په مکی پوری محدوده ؤه.

٣- د مکي څخه بهر د دعوت مرحله- چی د نبوت د لسم کال څخه شروع اومدینې ته د هجرت تر وخته پوری ئي دوام وکړ.

حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم د بشریت دسترهادي اولارښود په توګه د انسانیت او بشریت ژوند له تورو تیارو وژغوره خلك یي د ظلم، بی انصافي، فساد او منکراتو څخه عدالت، ښیګړې او نیکو کارونو ته راوبلل.

حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم د بشر د سعادت او نیك مرغۍ لپاره د الله تعالی د قرآني احکامو سره سم هغه رڼا خپره کړی ده چی ددغې رڼا په برکت انساني ژوند تل دسعادت او نیك بختۍ خواته روان دی. شر اوفساد په ټولنه کی د انسانانو دبدبختی سترعامل ګڼل کیږي. حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم په ټولنو کی د شر او فساد دبیلابیلو ډولونو د له مینځه وړلو لپاره د الهي احکامو سره سم لارښوونی کړی دي که چیری انسانان او بشریت د اسلام او قرآن توحیدی رسۍ ټینګه کړی نو انشا ءالله د جامعی اوټولنی څخه به د هر ډول شر او فساد لمنه ټوله شي.

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی انشا ءالله د شر اوفساد لمنه مخ په ټولیدو ده د افغانستان دینداره او مسلمانه خلك د لوی خدای د قرآني احکامو او محمدی غرا شریعت سره سم د ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کی هلی ځلی کوی ترڅو د شر او فساد دغه جرړی له مینځه یوړل شي.

د اومر خیریه موسسی رهبری هیئت او کارکوونکي ددغی موسسی د محترم رئیس الحاج فضل کریم فضل د لارښوونو سره سم هلی ځلی کوی ترڅو په افغانستان کی دامن او سوکالی راتلو دښمنان یعنی ماینونه او ناچاوده مهمات له مینځه یوسي اوخلك دهغوله شر اوفسادڅخه وژغوري.

ددی موسسی دغه هلي ځلې ددې الهی حکم سره سم ترسره کیږي چی: «که یو څوك دچا ژوند له مرګ څخه وژغوري داسي وګڼي چی هغه د ټولو انسانانو ژوند له مرګ څخه ژغورلی دئ» المائدة د۳۲ آیت ژباړه.

نو بیا هم وایو چي الله تعالی دی مونږ ټولو ته ددی توفیق راکړي څو د الهي احکامو او محمدي غرا شریعت سره سم د افغانستان له خاوری څخه دشر او فساد بیلابیل ډولونه له مینځه یوسو. ترڅو رستینی امن او سوله مینځ ته راشي. او زمونږ ګران هیوادوال وکولی شي د اسلام دسپیڅلي دین د احکامو سره سم دسولی او امن په فضا کی ژوند وکړي.

امین یارب العالمین.

داومر خیریه مؤسسی دماین پوهنی او ژغورنی شپږ-میاشتنی فعالیتونو راپور

افغانستان د آسیا په زړه کی یو لرغونی هیواد دئ، په دغه هیواد کی د دوو وروستیو لسیزو د جنګ جګړو له امله سوله او امن له مینځه تللی او دخلکو ژوند د ډیرو زیاتو ستونزو سره مخامخ شوی دئ.

له نیکه مرغه یو شمیر امن پلوه او سوله خوښوونکي هیوادونو، موسسو او خلکو مینه ښکاره کړی څو په دي هیواد کی دهیارغاونی لپاره هلی ځلی سرته ورسوي. ولی په دي هیواد کی دډیرو زیاتو ماینونو اوناچاوده مهماتو دشته والی له امله دغه هلي ځلي دستونزو سره مخامخ دی. ځکه دغه ماینونه او ناچاوده مهمات د ډیرو خلکو د مرګ ژوبلی او نیمځانه کیدلو او ددی هیواد لپاره د ډیرو اقتصادي او اجتماعي ستونزو سبب شوی دی همداشان زیات شمیر ښځي، ماشومان، ځوانان او لویان ددغو ړندو دښمنانو له ویری کډوالی ته مجبور اوله خپلو سیمو څخه بی ځایه شوي دي.

دماینونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو د له مینځه وړلو یا کمولو لپاره د اومر خیریه موسسي د هیواد په زیاترو برخو او ولایتونو کی د ماین پوهنی او ژغورني خبرتیائي او د ماینونو دپاکولو پروګرامونه ترلاس لاندی نیولي دي چی دلته د روان کال د شپږومیاشتو په ترڅ کی ددغو فعالیتونو په هکله لنډ معلومات وړاندي کیږي:

د اومرخیریه موسسی د ماین پوهنی او ژغورنی خبرتیائي پروګرام دخپل هدف یعنی دماینونو او ناچاوده مهماتودخطرونو د له مینځه وړلو یا کمولو لپاره د روان کال د جنوری میاشتی څخه د جون تر پایه پوری دخبرتیا پنځه لس ټیمونوته دنده سپارلی چی نوموړو ټیمونو دیونوچا د ماین دعملیاتي فعالیتونو د تطبیقي پلان سره سم د کابل،ننګرهار، کندهار، هرات، بادغیس،فراه، هلمند ، زابل، بدخشان، پکتیا، پکتیکا او ارزګان په ولایتونو کی خپل خبرتیائی پروګرامونه په لاندی بڼو سره پراخ کړي دي.

الف: دماین پوهنی اوژغورنی مخامخ روزنیز پروګرام:

دا پروګرام چی په مخامخ توګه د ماین پوهنی او ژغورنی دټیمونو د سوپروایزرانو، ماسترټرینرانو له خوا په اولسي سیمو، ښارونو،کلیو، ښوونځو او نوروځایونو کی پراختیا مومي. په دی ترڅ کی د دری یا څلورساعتونو لپاره د ماینونو او ناچاوده مهماتوخطرونه، سیمی ، نښی، امنیتي او روغتیائی لارښوونی او دژغورنی عملي لاری زده کوونکوته ښودل شوي دي او د روزنی په پای کي درسي مواد لکه کتابچې، پوسترونه، بروشرونه او مصوری پردی هم هغوته ویشل شوي دي چی په لاندي جدول کی بیانیږي.

درسي ټولکي	روزل شوي خلك			
	نارینه	ښځینه	ماشومان	ټول
٥٤٥٥	٤٩٤٣٧	٥٠١٦٠	١٢٧٥٣٧	٢٢٧١٣٤
توزیع شوي مواد				
کتابچې	مصوری پردی	درسي کتاب	بروشر	پوستر
٧٢٥٨٤	٤١٥٦٠	٣٣٨٢	٩٥٥٩٤	٥٢٧٤

ب: داولسي بنیاد ماین پوهنه او ژغورنه: ددی لپاره چی دماین پوهنی او ژغورنی پروګرام په اولسي سیموکی پراخه شي او د ډیر وخت لپاره ژوندی پاتی شي. نو د اومر خیریه موسسي د ماین پوهني اوژغورنی د ټیمونو له خوا په تیروشپږمیاشتو کی نژدي یوپنځوس اولسي شوری ګانی د بیلابیلو ولایتونو په ګڼو ځایونو کی جوړی شوي دي. په دغو شوری ګانو کی سیمه ایزو ښوونکو په اولسي توګه د روزنی ترلاسه کولو وروسته په خپلو سیموکی ددغه خیریه خبرتیائی پروګرامو د پراخولوکار په غاړه اخیستي دي. دوي برسیره په دي چی خلکوته یی دماینونو او ناچاوده مهماتو خطرونه په ګوته کړي د خطري سیمو، څیزونو اوپیښو په هکله یې مربوطه ځانګوته خبرتیا هم ورکړی.

ج: دسملاسي ماین پوهنی اوژغورنی خبرتیائی پروګرام:

۱- نندارتونونه: ددی پروګرام له لیاری د ماین پوهنی او ژغورنی دوه نندارتونونه دمی او جون دمیاشتو په بهیر کی دهرات ، بدخشان په ولایتونو کی جوړشوي دي چی د اوو زروپه شاوخوا کي اولسي خلکو دغیر دولتي موسسو کارکوونکو او خبریالانو ورڅخه لیدنه کړي ده. په دي نندارتونو کی دماین پوهنی او ژغورنی درسي مواد ښووني ته وړاندي شوي او د ماین پوهنی او ژغورني دټیم د غړو له خوا خلکوته لازمی لارښووني بیان شوي دي.

۲- ګرځنده لوړغږی: دسملاسي ماین پوهنی او ژغورنی ددی اغیزمني وسیلی له لیاری د ماینونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو په هکله په سملاسي توګه خلکوته خبرتیا ورکړشوی او له خطرونو څخه ژغورل شوي دي ددی وسیلي څخه دکابل، هرات، ننګرهار، پکتیا، پکتیکا او هلمند په ولایتونو کی دخلکو دسملاسي خبرتیا لپاره کار اخیستل شوی دی. هغوي ته د ماینونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو او ځان ژغورنی لنډ پیغامونه رسول شوي دي. له دي لاري بازار او ښارته راغلو او په ورځنی کارونو بوختو خلکو، همداشان د کوروونو ښځوته دغه پیغامونه دلوړ غږی په وسیله په اغیزمنه توګه رسول شوي دي.

۳- دتګ راتګ ځایونه: دسملاسي ماین پوهنی او ژغورنی پیغامونه یو شمیر راستندونکو کډوالواو بي ځایه شوو خلکوته په تورخم، سپین بولدك، کندهار، هلمند او د کابل ښار، په خیرخانه میني کی بیان او د هغوي ژوند له خطرونو څخه ژغورل شوی دی.

د: د ماین پوهنی اوژغورنی خپروني پروګرام:

۱- راډیوئی تلویزوني خپرونی: په تیروشپږمیاشتو کي دکابل، کندهار، هرات او بدخشان د راډیوګانو او د بدخشان د تلویزون له لیاری یوشمیر سمعي او بصري

خبرتيائی پيغامونه دماينونو اوناچاوده مهماتو دخطرونو په هکله گرانو هيوادوالوته رسول شوي دي.

۲- لوحی رسامي اوتصويري خپروني:

دشپږو مياشتو په بهير کی ټولی اته لوي فلزي لوحی د بيلابيلو ولايتونو د گڼه گوڼی په ځايونو کی درول شوي دي. د ماينونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو، سميو او نښو په هکله هم د ديوالونو په مخ د خلکو د خبرتيا لپاره تصويرونه کښل شوي او يو شمير لارښووني ورسره يو ځای ليکلی شوي دي.

۳- درسي مواد او ليکنده خپروني:

په تيرو شپږو مياشتو کی ټول اته ډوله پوسترونه، او دوه ډوله بروشر، يو ډول تصوير لرونکي کتابچه د امن مجلی ځلورگڼي نوی ترتيب او چاپ لپاره چمتو شوي دي په دی درسي موادو کی د ماينونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو په هکله دخلکو د خبرتيا لپاره نوی منطقي او په زړه پوری تصويري مفکوری د روزني او خپرونی د څانگي له خوا مينځ ته راوړل شوي شوي او د څانگي د انځورگر له خوا انځور شوي دي. په تيرو مياشتو کی د ماين پوهنی او ژغورنی درسي کتاب بياله سره د نوی کرلو او زياتونو سره چاپ ته چمتو شوی دی اودخپرولوکارونه يي بشپړشوي دي

دماين پوهنی او ژغورنی روزنيز ورکشاپ

د روان کال د جنوری په مياشتی کی د ماين پوهنی او ژغورنی د ټيمونو سوپروايزرانو، ماسترټرينروانو او يو شمير سيمه ايزو ښوونکو د پوهی، سويي او معلوماتو د لوړتيا همداشان ددی پروگرام د ستونزو او ځرنگوالي په هکله د نوو لارو چارو د پيداکولو لپاره يو روزنيز ورکشاپ جوړ شوی ؤ په دي ورکشاپ کي چی دقران کريم دخومبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شو محترم الحاج فضل کريم فضل د اومر خيريه موسسی رئيس، محترم ذکريا پاياب، اپريشن افيسر، محترم پوهنمل شيرخان رشتين دروزنی او فرهنگي چارو مسؤل محترم شريف الله ابراهيمي د روزنی دڅانگی منتظم له خوا ارزښتناکي خبری اومباحثی وشوي ضمناً په خپله د ټيمونوغړوهم په بيلابيلو اړخونو اوبرخو کی دگټورو لارو چاراوستونزو په هکله په دغو مباحثوکی فعاله ونډه واخيستله ددی ورکشاب څخه هراړخيزی نتيجی ترلاسه شوی او په پای کی ددغو نتيجو د تطبيق او عملي کيدلو لپاره هر اړخيزي سپارښتنی وشوی.

دماين پوهنی اوژغورني دخبرتيائي پروگرام اغيزمنتيا:

دا ښکاره ده چی دغه پروگرام دافغانستان د اقتصادي، اجتماعي، تعليمي او نورو شرايطو سره ډير ښه سمون لري له دي امله يو اغيزمن پروگرام گڼل کيږي.داپروگرام اوکارکوونکي يي تل د هيوادوالو، اولسي خلکو، د سيمه ايزو ادارو دواکمنو، ديوشمير بهرنيو ټولنو کارکوونکو، خبريالانو او نورو خلکو له خوا په شفاهي او تحريري توگه تقدير او ستايل شوي دي.

دغه پروگرام د سيمه ايزو اولسي خلکو له خوا ډير گټور گڼل شوي دي له همدی امله په اولسي توگه يي ددی پروگرام د پراخولو سره ډيره مينه ښودلي ده او په دي توگه ددی پروگرام د ژوندي پاتی کيدو امکانات يي زيات شوي دي.

داومر خيريه موسسی نړيوالی هلي ځلي:

د روان کال د فبروري او مارچ مياشتو په بهير کی ددی موسسی رئيس محترم الحاج فضل کريم فضل په بوسنيا هرزه گونيا کی د ماين پوهنی او ژغورنی نړيوال کنفرانس ته ورغلل شوی ؤ. همداشان دمئ په مياشت کی ددی موسسی رئيس محترم الحاج فضل د هالند د نړيوالو انکشافي مرستو د اداری نويب له خوا د مالي مرستو د جلبولو او د مربوطه پروژو د تړونونو د لاسليك کولو لپاره هغه هيوادته ورغلل شوی ؤ.

په دي بهير کی ددی موسسی يوه دفتر د المان د فرانکفورت په ښار کی پرانستل شوی دی چی ددی موسسی د بهرنيو اړيکو او مرستو د جلبولو په برخه کی به ارزښتناکه ونډه ولري.

پورتنی هلي ځلي او پرمختگونه ددي موسسي د اداری، پروگرامونو او رهبري هيئت د هر اړخيز اغيزمنتوب او نړيوال ارزښت څرگندونه کوي. ●

د اومرخيريه مؤسسی دماين پوهنی او ژغورنی په درسي پروگرام کی دمناسب درسي روش او موادو څخه کار اخستل کيري

فعاليت هاي شش ماهه موسسه خيريه اومر در عرصهء پاكسازي ماينها

مؤسسه خيريه اومر مطابق به پلان عملياتي مركز فعاليت هاي عملياتي ماين مربوط به اداره، يونوچا براى افغانستان MACA در سال ١٩٩٨ به تعداد هشت تيم پاكسازي ماينها را در ولايات غربي، جنوبي، مركزي كشور توظيف نموده است كه از جمله شش تيم در ولايات غربي (هرات، فراه، بادغيس) و دوتيم در ولايات مركزي و جنوبي (كابل و كندهار) در شش ماه اول سال ١٩٩٨ مصروف فعاليت هاي ماين پاكي بوده اند.

ساحات ولايت غربي بيشتر توسط ماينها متاثر گرديده كه ساحه ١٣٥ كيلومتر را احتوا مي نمايد و نظر به موجوديت تعداد زياد ماينها در زمره مناطق درجه اول بشمار مي روند كه به طور عاجل بايد پاكسازي گردد.

مؤسسه خيريه اومر شش تيم خويش را درشهر هرات ولسوالي هاي انجيل، كوهستان، گزره، كوشك، زنده جان و گلران ولايت هرات و قلعه نو ولايت بادغيس مصروف پاكسازي ماينها ساخته است. اين همه فعاليت ها با تفاهم دفتر ساحوي مركز فعاليت هاي عملياتي ماين پاكي اداره يونوچا در شهر هرات تنظيم گرديده است.

به همين گونه دو تيم ديگر اين مؤسسه در موسم سرما در شهر كندهارفعاليت نموده كه ساحه حق اوليت پاكسازي آنرا ١ ,٩كيلومتر تشكيل مي دهد. همچنان درموسم گرما از تاريخ (٥) اپريل الي اخيرجون اين دوتيم درمربوطات شهر وولايت كابل فعاليت نموده اند.

در مدت شش ماه اول سال ١٩٩٨ مجموعاً پنجاه ويك (٥١) ساحه از ماينها پاكسازي شده ساحات دارانده ماينها عبارت اند از يك ساحه در كابل، چهار ساحه در كندهار، شش ساحه در فراه، دوساحه در بادغيس و ٣٨ ساحه در ولايت هرات.

فعاليت هاي انجام شده دربخش پاكسازي ماينها را درجدول ذيل ملاحظه نموده مي توانيد.

ولايت	ساحه پاكسازي شده	ماين ها ومواد منفجرناشده ازبين برده شده				ساعات صرف كار
		ضد تانك	ضد پرسونل	مهمات منفجرناشده	پرچه ها	
هرات	٧٨٣.٧٨٠ مترمربع	٥	٣١٥	٤١١	١٨٢.٧٦٥	٢.٩٤١
فراه	٢٦٦،٦٧٨ مترمربع		٩٨	٩٧٧	٢٥.٤٤٦	٤٩٨
كندهار	٩٣.٦٢٩ مترمربع		٢٤٢	١٥	٦٢.٩٨٤	٤٥٨.٥
كابل	١١٣.١٠١ مترمربع		٨٩٠	٢٦	١١٩.١٠١	٦١٨
بادغيس	٢٥.٨٩٩ مترمربع		١٤	١٦	١.٧٦٠	٣٣
مجموع	٠٨٧.٢٨٣.١مترمربع		١.٥٥٩	١.٤٤٥	٣٩٢.٠٥٦	٤.٥٤٨

اثرات پروگرام پاكسازي ماينها:

به شما واضح مي باشد كه ماينها بزرگ ترين مانع راه زندگي افراد بوده كه باعث مشكلات فراوان در بخش هاي مختلف چون صحت، كار، فعاليت، تعليم و غيره و همچنان باعث كشته و زخمي ساختن انسانها مي گردد. ماينها بزرگترين مانع ومشكل در راه عودت مجدد مهاجرين و بي جا شده گان محسوب مي گردد. موجوديت اين ماينها مانع كارهاي زراعتي، آبياري، بازسازي خانه هاي ويران شده بوده لذا همواره اهالي مناطق مختلف كشور مطالبه مي نمايند تا ساحات متذكره از وجود ماينها پاكسازي گردد. در شش ماه اول سال ١٩٩٨ در حدود ١٢٥٤٤٥٠ مترمربع ساحه رهايشي از ماينها پاكسازي شده كه در اثر آن بيشتر از ٣٥ فاميل خانه هاي خويش را دوباره آباد نموده و ده دوكان دوباره بازسازي شده است، علاوه بر آن ٤٥٩٥٧٩ مترمربع ساحه زراعتي و ٥٥٩٤٩ مترمربع سيستم ابياري هم از وجودماينهاتطهيرگرديده است.

همچنان پاكسازي ٧٣٨٩٢٥ مترمربع ساحه علفچر شرايط زندگي و رفت آمد را براي كوچيها مساعد و بهتر ساخته است.

در اثر پاكسازي (٥١)ساحه ماينها ومهمات منفجرناشده مجموعاً ٩٠٠٠٠ هموطن مان مستقيماً و يك مليون هموطنان ما به صورت غير مستقيم ازين خدمات خيريه مستفيد گرديده اند مفاد و صرفه جوئي ايكه ازين درك نصيب هموطنان گرامي ما گرديده بالغ، به (١٣٠٠٠٠) دالر امريكائي مي گردد.

اكنون هموطنان ما در روستاها و شهرهاي مناطق متذكره در بخش هاي باسازي منازل، مراكز تجارتي، صنعتي، توسعهء زراعت و مالداري و رفت آمد، فعاليت هاي روزمره ايشان را به خاطر ارام انجام مي دهند و به اين صورت اهنگ زندگي گام به گام قوام بيشتر كسب مي نمايد و اميد صلح و امنيت آرام آرام بدلها جا ميگيرد.

مؤسسه خيريه اومر بخاطر انجام اين فعاليت هاي انساني و بشري خيرخواهانه اش در قلب همه جا داشته مسؤلين و اهالي مناطق مختلف همواره كاركنان اين موسسه را كه با احساس سرشار و ازعشق خداوند، كشور و مردم مصروف خدمت بوده اند به صورت تحريري و شفاهي مورد تقدير و تمجيد قرار داده اند. برعلاوه كار و فعاليت اين موسسه از طرف كاركنان موسسات بين المللي و منابع تمويل كننده نيز عالي ارزيابي گرديده زيرا اين موسسه با مصارف و مخارج اندك فعاليت هاي گسترده را در زمينه هاي مختلف به منصه اجرا قرارداده اند.

بازديدها وبازرسي ها:

فعاليت هاي اين موسسه اعم از پروگرام پاكسازي و اگاهي از خطرات ماينها مطابق به پلان هاي منظم همواره از طرف هيئت هاي با صلاحيت موسسه خيريه اومر، مركز فعاليت هاي عملياتي ماين MACA اداره محترم يونوچا، واداره بازرسي وتعليمي META يونوچا مورد بازديد و بازرسي قرار گرفته است. ساغلي ايوان بولپيت آمر پروگرامها، ساغلي ريچاردكيد آمر پلان و عمليات، ميرمن هلري ريكز مشاور پروگرام اگاهي ازخطرات ماينها محترم ك، م، شريف امر عمليات و يك تعداد ديگر از كارمندان مركز فعاليت هاي عملياتي براي افغانستان MACA در ماه هاي مختلف از فعاليت هاي پاكسازي و اگاهي از خطرات ماينها مربوط به موسسه خيريه اومر باديد و بازرسي به عمل آورده اند. همچنان در جريان شش ماه اول سال

تیم ماین پاكي موسسه خیریه اومر دراثنای كار درشهر كابل دیده مي شوند.

۱۹۹۸ الحاج فضل كریم فضل رئیس مؤسسه خیریه اومر كارهاي دفاتر ساحوي، تیم هاي پاكسازي ماینها و اگاهي از خطرات ماینها را در شهر هاي كابل هرات، و جلال آباد مورد بازدید و بازرسي قرار داده اند.

به همین منوال محترم ذكریاپایاب امر عملیات، محترم شریف الله منتظم پروژه، تربیوي پروگرام اگاهي نیز از فعالیت هاي مربوطه در منطقه سرحدي تورخم ننگرهار، پكتیا،پكتیكا، كابل، هلمند، كندهار، فراه و هرات دیدن به عمل آورده اند.

ساغلي داكتر گنتر مولك معاون امور مربوط به كمك ها با ممالك روبه انكشاف در وزارت امور خارجه المان ضمن ماهاي مي و جون سال جاري از فعالیت این موسسه در شهر هرات و كابل بازدید نموده اند. به همین گونه كاركنان مسلكي اداره بازرسي و تعلیمي META، مربوط مركز فعالیت هاي عملیاتي ماین براي افغانستان و هیئات هاي دفاتر ساحوي یونوچا در شهر هاي كندهار، هرات، كابل و جلال آباد نیز پروگرام ها و فعالیت هاي این موسسه را مورد ارزیابي و بازدید قرار داده اند.

ضمناً محترمه شرین سلطاني ژورنالیست و كارمند بخش پروگرام درامه هاي (خانه نو و زنده گي نو) رادیو بي.بي.سي نیز از فعالیت هاي اگاهي از خطرات ماینها دیدن نموده اند.یك هیئت خبر نگاران بنام CIDA به اشتراك محترمه آن ازبریتانیا درماه میٔ از پروگرام اگاهي ازخطرات ماینها درشهركابل باز دید به عمل آورده است. یك هیئت صلیب سرخ بنام میدیرMEDAIR به اشتراك میرمن مانفرینا در ماه اپریل از فعالیت هاي پاكسازي ماینها در شهر كابل بازدید به عمل آورده اند.

یك هیئت از اداره هاي سازمان صحي جهان، اداره مهاجرین جهان و اداره غذائی جهاني به اشتراك داكتر حلیم در ماه جون فعالیت هاي پروگرام اگاهي از خطرات ماینها را مورد بازدید قرار داده اند.

درس هاي تجدید سویه تربیوي دربخش پاكسازي ماینها: در شش ماه اول سال ۱۹۹۸ یك تعداد درسهاي تقویت و تجدید سویه كارمندان پروگرام پاكسازي در تیم هاي مقیم كابل از طرف اداره بازرسي و تعلیمي مركز عملیات ماین براي افغانستان META انكشاف داده شده است. این درسهابیشتربه خاطر عملیات محفوظ پاكسازي ماینها و راه هاي مصؤن انفجار دادن آنها تهیه گردیده است.

كلینیك هاي صحي مؤسسه خیریه اومر: كلینیك هاي صحي مؤسسه خیریه اومر در چوكات پروگرام پاكسازي ماینها فعالانه مصروف خدمت به هموطنان نیازمند بوده است كه از طرف یونت هاي صحي ساحوي به پیش برده شده است. در هریونت صحي یك نفر داكتر و یك نفر معاون داكتر مصروف خدمت بوده و در چوكات هر تیم پاكسازي ماینها كه با ایمبولانس ها سامان الات كمك هاي اولیه صحي و وسایل مخابروي مجهز بوده اند دونفر معاون داكتر در اثنای عملیات پاكسازي ماینها خدمات و كمك هاي اولیه صحي را براي مصدومین حادثات تهیه و تدارك نموده اند. ارتباطات مخابروي این تیم ها از طریق رادیو با اسرع وقت با دفتر مركزي برقرار گردیده، هدایات و كمك هاي لازمه به اختیار ایشان قرار گرفته است.

دكتوران و كاركنان صحي یونت هاي صحي ساحوي مؤسسه خیریه اومر بر علاوه تداوي و معالجه مصدومین حادثات انفجار ماینها در كلینیك هاي صحي این مؤسسه در شهرهاي هرات، كابل و كندهار سایر شهریان را نیز غرض معالجه و تداوي پذیرفته اند و ضمناً یك اندازه ادویه عاجل را به این افراد مساعدت نموده اند.

این كلینیكهابه استثنای ایام تعطیل همه روزه درخدمات كارمندان مؤسسه و هموطنان اعم از ذكور، اناث و اطفال بوده است.

در جریان شش ماه سال روان مجموعاً ۵۳۶۹ تن از هموطنان بیمار ما در شهر هاي هرات، كندهار و كابل از خدمات صحي این كلینیك ها مستفید شده اند كه در جمله آنها ۵٦٤ تن ذكور، ۱٦٤٦ تن اناث و ۱۳۵۷ تن اطفال، ۱٤۲٤ تن ازكاركنان ماین پاكي، ۳۷۸ تن از كارمندان مؤسسه خیریه اومر و متعلقین آنها شامل مي باشند.

كارمندیونت صحي مربوط به تیم ماین پاكي موسسه خیریه اومر درحال آماده باش براي واقعات غیر مترقبه مي باشد.

د امن ادبی او ژبنی څیړنه

امن هغه ښکلی نوم او هغه ښکلی مفهوم دی چی په اوریدو او لیدوبي د انسان روح او فکر ژوندی کیږي او په راتلوسره یي ویده زړه ونه راویښیږي اوراخوځیږي.

د ژوندانه په لاره د امید غوټی راټوکیږي. امن خو چمن کی شنیلی رازرغونوي، سینګارته یي ګلونه توکوي د نرګس سترګوته خمار ورکوي، د غاټولو غړی هسکوي، په ارغوانو او نښترنوکی مستی راوښوي د زنبقونه لښکري جوړوي، ریدیوته ښکلا ورکوي، سروغوټیوکی کرشمی راپوکنوي، د ګل غنچو کی ویدی وږمی راویښوي، د سنبلو زلفی ږمنځوي، د راویلو او چامبیلو د عطرونو قافلي راونوي، د ګلاب شونډو باندی مسکا خوروي، امن سپرلیوته د ژوند نشی بخښي او ددی ګلشن نه ګلستان جوړوي.

امن د رحمت باران دی، سپیری شونډې لمدوي، د تږوتندی ماتوي، سپیرې دښتې خړوبوي. د جنګ جګړو د اورلمبی سړوي. امن سپینه رڼا ده چی وطن رڼا کوي، تورتمونه له مینځه وړي او د ژوند فضا ښکلې کوي.

امن د ژوندانه ښکلی هوا ده هلته چی د جنګونو لوګی انسانان ګڼدۍ کوی، امن مسیحا ده امن د تنفسي لپاره سا ده، امن کی د انسانانو او نورو ژوو د بقا راز نغښتی دئ.

امن سره ژوند دی ، خوشالي ده، سوکالي ده، پراختیا ده پرمختیا ده.

امن یوه اړتیا ده یوه‌غوښتنه ده، یوه انساني هیله ده. چی پرته له هغې د انسان ژوند بې مفهومه دئ.

امن د کائیناتو په فطرت کی نغښتی دئ، دکائیناتو امن یو ډول تعادل دي چی پرته له هغې د غه نظام د ګډوډۍ سره مخامخ کیدای شي. لنډه دا چی پرته له امنه دا نړۍ او هستي د راز راز ګواښونو سره مخامخ کیږي. دلته غواړو څو په ادبیاتو او ژبه کی دامن د کلمی یادونه اوریښې یو څه روښانه کړو.

د پښتو ادب د تاریخ په لرغونو، منځنیو او اوسنیو دوروکي ډیرو شاعرانو او ادیبانو د امن په هکله په زړه پوری مطالب بیان کړي دی چی دلته د موضوع د ښی ځلا او رنګینې لپاره غواړو د ادبي ګلشن څخه یو څو ګلونه د ساری په ډول د ګرانو مینه والو د خاطر په ګلدسته کی کیږدو. د پښتو ژبی د لرغوني ادب په ګلستان کی امن کلمه په ۱۳۹ هجري شمسي کال د امیر کروړ سوري له خوا په لاندی توګه په کار وړل شوی ده.

غشی د(من) مي ځي
برښناپه میرځمنو باندی
په ژوبله یونم یرغالم
پرتسښتیدونو باندی
په ماتیدونو باندی- له ما اتل نشته
(پټه خزانه)

ددی څخه څرګندیږي چی (من) په پښتو کی یوه لرغوني کلمه ده او تاریخي ریښه لري. په دي شعر کي من د زړه په معنا کارول شوی دي د من د کلمی د ریښوي او معنوي څیړنی څخه هم دا خبره څرګندیږي چی من په لرغونی پښتو کی هم د زړه په مفهوم په کار وړل شوی دی

د وخت په تیریدوسره د الفاظو په معنی او مفهوم کی بدلون، زیاتوالی او پراختیا مینځ ته راځي من په راوروستو زمانوکی د زړه په کلمی بدل شوی دی.

غیب اللسان شاعر رحمان بابا د زړه د امان په هکله څه ښه ویلي دي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چی کښتۍ غوندی دخلکو باربردارشي

خواجه محمد بنګش دپښتو خوږژبی شاعر په دي برخه کي وایي:

زړه ونه مه ماتوه لعل د بدخشان دی
مشکل کار دی رغول د شکسته ؤ

بل ځای کي د زړه وړلو په برخه کي وایي:

زړه وړه اسان دي دلداري مشکل هنر دئ
ګرانه ده بې حده د اشنا د زړه ساتنه

د پښتو ادب معاصر لیکوال او شاعر محترم استاد ګل پادشاه الفت په دي برخه کی وایي:

زړه بې مه بوله تورکلنۍ د صحرا دئ
په لیدو د زخمي زړه چی زخمي نه شي

ددغه شاعرانو د وینااو څخه څرګندیږي چی زړه د انسان په بدن کی ډیر مهم غړی دی زړه د انسان د فکر او عمل سمبول دی. زړه دانسان د عواطفو او احساساتو مرکز دی ، دغه زړه ته په لرغوني ژبه کی دمن کلمه په کار وړل شوي ده. امن دمن سره ریښوی اړیکي لري (من) امن او د زړه دنیا یوه لویه دنیا ده.

دلته غواړو څو د امن او من د کلمو تر مینځ اړیکي روښانه او څرګنده کړو. هرکله چی یوه خبره یا یو کار د انسان من (زړه) ته پریوځي نو دا داسی حالت دی چی انسان یې منلوته تیار شوی دی. نو زړه ته پریوتل، من ته پریوتل دي چی منل تری جوړیږي یعنی - د انسان (من) دی چی یوه خبره یا یو کار مني! او ددی څخه منل مینځ ته راځي. په دي توګه (من) زړه او منل د (من) کړه دي. هره خبره او کار چی د من په کاله کی ځای ونیسي او استمراري بڼه خپله کړي یعنی ډیر وخت لپاره پاتی شي نو هغی څخه مینه جوړه شي، یعنی په من (زړه) کی د چا کړو یا خبرو رسیدلو سره مینه مینځ ته راځي.زما په خپل خیال د مینه meena او مینه mena دواړه ګډي ریښوي او معنوي اړیکي لري کله چی په یو ځای کي مینه دوامداره شي نو هغه ځای د میني مینه شي. کورته هم مینه ویله کیږي مینه Mena پرته له میني مینه نه ده ، مینه هغه ځای وي چرته چی انسان ژوند کوي او په فطري توګه ورسره مینه لري.

په هر حال څرنګه چی زړه یا من د میني کور دی نو هلته له وینی څخه د پایښت او وفا رنګ خپلوي.

پاتی په ۱۲ مخ

د امن ادبي او... /پاتې برخه

وینه اومینه د ژوند تر پایه د انسان سره ملګري وي. که دا دواړه څیزونه نه وي نو بیا ژوند په ژوند حساب نه دئ.

که ژوند وي او مینه نه وي نو بیا به خوند نه وي. او بې خونده ژوند خو څه ژوند نه دی.

مینه mayen(محبوبه)، ماینهmina (میرمن) هم له دغو کلمو سره اړیکي لري په دي کلمو کی هم د مینی عنصر غالب ښکاري ، دوي په خپله هم د ښځی په حیث له نرمو عواطفو ،لطیفو، احساساتو او مینو درلودونکي دي، د مینی یا ماینی په کلموکی د مین توب یعنی مینه لرونکي مفهوم ښکاره دی .

دښځو من یا زړه کی مینه غالبه وي د ماشومانو او نورورسره ددوي بې کچه مینه ټولوته څرګنده خبره ده.

مین Mayen هم هغه چاته ویله کیږي چې دچاسره مینه ولري یابې په چا باندی زړه بایللی وي. مینه د مین ښځینه نوم دئ اوماینه دمینی مغیره حالت دئ.

په زړو اریایي ژبوکی منو Mano د بنیادم اصلي او طبیعي نوم دئ یعنی دمن (زړه) او د میني لرونکی ژوی.

انسان یوازینی موجود دی چې د مینه ناك زړه څښتن دی او الله د اشرف المخلوقات په نامه یاد کړی دئ.

په هندی او اردو ژبو کی (من) د زړه او د دماغ په معنی په کار وړل کیږي زړه او دماغ د انسان د ارادی بالقوه مرکزونه دي . او د انسان ټول اعمال ورپوری تړلي دي.

په انګریزي ژبی کي چې د لرغوني لاتیني ژبی څخه مینځ ته راغلي دمین Man کلمه دبنی آدم په معنی سره استعمالیږي دغه کلمه دمنو Mano سره ریښوي اومعنوي اړیکي لري .

الله تعالی بنیادم ته د انسان نوم ورکړی دغه کلمه دانس څخه اخستل شوي ده. انس میني او محبت ته ویل کیږي په دی اساس انسان هغه څوك بلل کیدای شي چې انس اومینه ولري.

د انسان د نوم په دغه مفهوم کی بیا هم د میني مسئله شامله ده په حقیقي معنی هغه چاکسی چې مینه نه وي هغې ته انسان ویل کیدای نه شي ځکه هلته چې مینه نه وي اصلاً هلته انسانیت نشته او هلته چې انسانیت نشته هلته وحشت دئ هلته بربریت وي او لنډه دا چې هلته امن نشته. د پارسي ژبی من، د پښتو ما، مونږ د انګریزي My, me هم کیدای شي د همدی من سره ریښوي اړیکي ولري. او له دي څخه مشتق شوي وي چې بیا هم د انسان سره اړیکي لري انسان د من او میني خاوند دي او امن ته اړتیا لري.

په پای کی دا خبره جوته شوه چې امن د من او مینی سره اړیکي لري او په کوم ځای کي چې مینه او محبت موجود وي هلته هیڅکله د دوو خواو تر مینځ جنګ جګړه مینځ ته راتلی نه شي او یو انسان د بل انسان لپاره ګواښونه او ستونزی مینځ ته راوړي نه شي او په دي توګه خلك په امن کی ژوند کوي.

همداشان څرنګه چې من د زړه په مفهوم مجازاً، د ارادي، عواطفو او احساساتو د کور په معنی په کار وړل کیږي. دغه شان کور یعنی زړه (من) ارام ، سکون ته اړتیا لري او په دغه شان حالت کی زړه خپل کړه وړه په ښه توګه سرته رسولی شي.

د (من) آرام او دسکون حالت ته امن ویلی کیږي د من او امن ریښوي او معنوي اړیکي هم له همدی څخه څرګندیږي. من یا زړه آرام، سکون او امن ته اړتیا لري. د زړه دنیا هغه وخت د آرام، سکون او امن ښکلا لرلي شي چې چارچاپیره دغه شان د سکون او امن فضا شته والی ولري. له دي څخه څرګنده شوه چې د انسان زړه او ژوند مینی، محبت او امن ته اړتیا لري.

که چیري په ټولنه کی امن نه وي نو انسان نیك مرغه کیدای نه شي. د امن د نشتوالي په اثر په ټولنه کی راز راز مصیبتونه او ستونزی رامینځ ته کیدای شي او ټولنه پرمختګ کولای نه شي نو مونږ ټولو ته په کار دي څو د امن د لاری ټول خنډونه په خپل کار، زیار اونیك نیت سره له مینځه یوسو او په دي برخه کی خپل انساني او بشري رسالت تر سره کړو. ●

بقیه / ماین مانع زندگی..

ماین‌ها مربوط این موسسه چندین بار در نقاط مختلف این والسوالي اهالي و مردم را از خطرات ماینها باخبر ساخته ولي مشکل ماینها ومهمات منفجرناشده تاهنوز در ساحات مختلف این ولسوالي موجود بوده که باعث رکود فعالیت متنوع اعم از زراعتي، مالداري، ترانسپورتي و غیره گردیده و مردم را بامشکلات فروان روبرو ساخته است اقشار مختلف اهالي چون اطفال، جوانان، پیران، خانمها، مردها ودیگران به این خطرات مواجه مي باشند بدین منظور تیم اگاهي ، شناساني و مصؤنیت ازخطرات ماینها مربوط موسسه خیریه اومر در مربوطات ولسوالي پغمان پروگرام انساني و بشري خویش را به منظور نجات و مصؤنیت همرطنان متدین خویش به پیش برده است در اثر این فعالیت ها زمینه هاي بهتر به غرض بازسازي و فعالیت هاي متنوع مساعد گردیده است. امیدواریم تا کشورها، موسسات و افراد بشرخواه وخیریه بتوانند پروگرام هاي بازسازي و احیاي مجدد خویش را در مناطق مختلفه ادامه داده و مسؤلیت انساني و بشري شان را در قبال مردم جنگدیده و بلاکشیده کشور ما درك نمایند و نگذارند ازین بیشتر این کشور اماج دشمنان امن و سلامتي قرار گیرد زیرا ماینها و مهمات منفجرناشده خطربزرگ در راه صلح و امنیت مردمان بوده اهنگ زندگي را با رکود مواجه مي سازد.

ما امیدواریم تا در جوار این کمکهاي خیریه و بشري اهالي شریف و متدین نقاط مختلف کشور رسالت تاریخي و اسلامي شان را درین زمینه به انجام رسانند و نگذارند ازین بیشتر مناطق مختلف کشور زیبای ایشان در آتش وبارود ماین ومهمات منفجرناشده نیست ونابود گردد.

با بر آورده شدن این هدف ان شاءالله اهنگ زندگي در مناطق مختلفه کشور رونق بهتر کسب نموده، صلح، امن و خوشبختي را به ارمغان خواهد آورد. ●

ارسالي تیم اګاهي، شناسائي و مصؤنیت ازخطرات ماینها مربوط مؤسسه خیریه اومر در ولایت هرات

قصه فرد بي احتیاط

در همه احوال به غم یا نشاط
هیچ وقت از دست مده احتیاط

روزی فضل احمد برایم گفت در باغ بیل مي زدم و درمیان خاك پاره آهنی دیدم، به آن نگاه کرده و به چوب دسته بیل آنرا پاك کردم حاجي عبدالرؤف همسایه ام را نشان دادم و بخانه آوردم همسرم گفت: فضل احمد، این آهن را از خانه دور کن شاید که ماین باشد ماین قاتل پنهان انسان است.

